مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

محمدابراهیم سپیڅلی

۲۰۲۶/۱۰/۰۴

# طوفاني شپه

دواړه لاسونه يې سره ومږل، خولې ته يې ونيول، مګر تاوده نه سول، بيايې په تخرګ کې تينګ ونيول لږ يې د تودوالي احساس وکړ.

بوټونه او پنډې جرابې يې په پښو دي، خو بيايې هم د پښو ګوتې له يخه درد کوي.

د موټرپه چوکۍ کې يې پښې ور ټولې کړې، خو طاقت يې نه کيږي، له جيبه يې دستمال راويست د پښو پر ګوتو يې وپېچې بيايي هم د پښو نوکانو هغسې درد کوي.

دده څنګ ته ناست ملګري يې هم ځان په پټو(څادر) کې تينګ پېچلی دی.
له ګل محمد سره په دغه بس موټر کې ترپنځوسو ډېر نور مسافرهم له يخه ريږدي.

پرسرک په لسهاوو کوچني اوغټ موټرونه ولاړ دي، ځکه لويه لار بند ده.
ګل محمد په فکرونو کې ډوب د موټر له کړکۍ دباندې ګوري هرې خواته مځکه واورو پوښلې ده.

پرون دا وخت له خپلې کورنۍ سره په صندلي کې ناست و. منځوی زوی يې څنګ ته ور نژدې سو« بابا ! زما د مکتب بستې دې هېره نه سي، دغه ډېره زړه سوې ده .»
کوچنۍ لور رڼا د پلار په غېږکې کښېنستله، کيڼ لاس يې د پلار ترغاړې تاو او د پلار سترګو ته يې وکتل « ماته به ښايسته ناوکۍ راوړې، زما شريکه پلوشه ښکلې ناوکۍ لري» .
زرلښتي پر اولادونو تندی تريو کړ: « يو ګړی چوپ سئ ! هغه مريض دی اوتاسې فرمايشونه ورته شروع کړي دي» .
پر پلار راټول سوې ماشومان لږ سره وځکېدل.
زرلښتي يو ګيلاس تودې چاې مېړه ته ورکړې او کرار يې ورته وويل:«داسې خوندوري چاې دې لکه د زړه سر».

«اورلګيت به نه لرې څوانه ؟» څنګ ته د ناست ملګري دې پوښتنې يې د فکرونو خوره لړی ور پرې کړه، سرېې د چوکۍ څخه راپورته کړ ملګري يې سګرېټ په ګوتو کې نيولی دی.
هغه يې د سرپه اشاره پوه کړ، چې اورلګيت نه لرم.

ټول مسافران په فکرونو کې غرق دي، يوازې د پای په چوکۍ کې يوه مور له خپل ماشوم سره کرار کرار ږغيږي.

ګل محمد خپل پټو(څادر) پر ځان سم کړ، سرک ته ګوري واوره نوره هم تيزه سوه.

له جيبه يې ټليفون راويست، خو د ټليفون انټن کار نه کوي، د څنګ له ملګري څخه يې پوښتنه وکړه:« ستا ټليفون هم کار نه کوي؟ »
د ملګري پرځای موټروان ځواب ورکړ: « نه يم خبر دا سيمه څه بلا وهلې ده، دلته ټليفونونه سم کار نه کوي».


افغان جرمن آنلاين په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکني د ليکنيزې بنې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له رالېږلو مخکې په څير و لولـئ

د شا له څوکی څخه یو بل په پټو کي پیچلي څوان پر را بډغ کړه، ربښتیا وایي له هغه راهیسي چي موټران درېدلي دي، په ټلیفون اخته یم هیڅ انتن نه ورکوی.

ګړی په ګړی واوره، یخ او لوږه زیاتیږي، مخ ته د ولاړو کوچنیو موټرونو ټیرونه ترنیمایي په واوره کي پټ سول.

اوس د مازدیګر څلورنیمي بجي دي، اسمان لا هغسي وریځو پوښلی او واوره په خرپ شروع ده.
کرار، کرار ورځي خپل ځای شپې ته پرېښود، په موټر کي د ناستو مسافرو خبري هم کرار، کرار چوپ سوې، یوازي له لیری د وږو لیوانو انګولاوي اود شا په چوکیکي دکوچنی ماشوم ژړا په موټر کي چوپتیا ماتوي.

ګل محمد په ډېر زحمت د ټلیفون ساعت ته وکتل د شپې دوولس بجي دي، پښي یې له ډېره یخه کار نه کوي، لاسونه یې هم ریږدي، ژر، ژر سا اخلي، خو ګټه نه کوي.

د اولادونو پرونی خبري یوار بیا ورپه زړه سوې، له سترګو یې راتوي سوي اوښکي پر باړخو یخی ودرېدلي، د زړه ضربان یې ترانداز زیات سو، د سترګو رپولو توان یې له لاسه ورکړ، په چوکی کي څنګ ته پر ناست ملګري یې تکیه وکړه، خو هغه او دی دواړه له چوکیو لاندي را ولوېدل.
اوس د ماشوم ژړا نوره د موټر چوپتیا نه سي ماتولای، یوازي د موټر پر هندارو له واوري سره مل طوفاني باد خپل زور ازمویي.

۲۰ – ۰۲ – ۲۰۱۷
کندهاربښار، چوبنی


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزی بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکي په ځیر و لولـئ